قرآني بيان

# د جَنَّت ضمانت

(پاره:1، سورة بقرة:25)

د مَدَني مرکزونو (فيضانِ مدينه) او د شعبه إمام مساجد (دعوتِ اسلامي)

لاندې جوماتونو د پاره

په 17 اکتوبر، کال 2025ء

(بمطابق: 23 ربيع الآخر، کال 1447ھ)

د جُمعةُ المبارک



د مَدَني مرکزونو (فيضانِ مدينه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي) لاندې جوماتونو د پاره

پهٔ 17 اکتوبر، کال 2025ء (بمطابق: 23 ربيع الآخر، کال 1447ھ) د جُمعَةُ الـمبارک

قرآني بيان

پهٔ نوم

(پاره:1، سورهٔ بقرة:25)

# د جَنَّت ضمانت

پہ دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- ـــ جَنَّتيانو ته به تکليف نهٔ وي
- ـــپهٔ جَنَّت کښې زميداره
- ـــ د جَنَّت د ټولو نه اعلیٰ نعمت
- ـــ جَنَّت ته بوتلونکي اعمال

پیشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ؕ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن ؕ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ الله
اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ الله

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِیَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاک فضیلت

**د اخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:** چا چې په ورځ کښې په ما باندې 1000 کرته دُرُودِ پاک ولوستو، هغه به نۀ مرِ کیږي تر څو پورې چې په جَنَّت کښې خپل ځائے اونه ویني-[1]

کعبه کے بدرُ الدُّجیٰ تم پہ کروروں درود | طیبہ کے شمسُ الضُّحیٰ تم پہ کروروں درود [2]
بھینی بھینی مہک پر مہکتی درود | پیاری پیاری نَفاست پہ لاکھوں سلام [3]

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

قَالَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰی فِی الْقُرْاٰنِ الْكَرِیْم (الله پاک په قرآنِ کریم کښې فرمائي):

وَبَشِّرِ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ اَنَّ لَهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِیْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ؕ كُلَّمَا رُزِقُوْا مِنْهَا مِنْ ثَمَرَةٍ رِّزْقًا ۙ قَالُوْا هٰذَا الَّذِیْ رُزِقْنَا مِنْ قَبْلُ ۙ وَاُتُوْا بِهٖ مُتَشَابِهًا ؕ وَلَهُمْ فِیْهَاۤ اَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ ۙۗ وَّهُمْ فِیْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿۲۵﴾ (پاره:1، سورۂ البقره، آیت:25)

صَدَقَ اللّٰهُ الْعَظِیْم وَصَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِیُّ الْكَرِیْم صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

---

[1]… الترغیب والترہیب، کتاب الذکر والدعاء، الترغیب فی اکثار…الخ، صفحه:564، حدیث:22۔
[2]… حدائقِ بخشش، صفحه:264۔
[3]… حدائقِ بخشش، صفحه:308۔

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! مونږ د وړومبی سیپارې، د سورۀ بقره د آیت: 25 د اوریدو سعادت حاصل کړو- پۀ دې آیت مبارک کښې د ایمان والؤ او نیک اعمال کوونکو له د جَنَّت زیرے ورکړے شوے دے-

دا د قرآنِ کریم ښکلے انداز دے چې چرته غیر مسلمه او مجرمان د دوزخ نه ویرولے کیږي، ورسره د ایمان والؤ او نیکانو خلقو ته د جَنَّت زیرے هم ورکولے کیږي، د دې آیت مبارک نه پۀ مخکښینو آیتونو کښې کافرانو ته د دوزخ وعید ورکړے شو او وفرمائیلے شو چې اے غیر مسلمو! اے هُغه خلقو! کوم چې د قرآنِ کریم پۀ باره کښې شک کوي، یا خو دا دي چې تاسو د قرآنِ کریم پۀ شان کلام جوړ کړئ! او که جوړ یې نۀ کړے شي او یقیناً چې تاسو به د دې پۀ شان کلام جوړ نۀ کړے شئ نو د هُغه دوزخ نه ویریږئ د کوم خَشاک چې انسان او کاڼي دي او هغه د کافرانو د پاره تیار کړے شوے دے- اوس پۀ دې آیت مبارک یعنې پۀ آیت نمبر 25 کښې ایمان والؤ ته، پۀ قرآنِ کریم باندې پوخ یقین لرونکو، د صاحبِ قرآن نبي، مکي مَدَني صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رښتینو غلامانو ته د جَنَّت زیرے ورکولے کیږي-

## د آیت مبارک مختصر وضاحت

اِرشاد دے:

وَبَشِّرِ | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او زیرے واوروه-

دا زمونږ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شان دے، د نبي کریم صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نوم مبارک دے: بَشِیر یعنې زیرے ورکوونکے نبي (صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم)- دلته چې کومه د مزې خبره ده، هغه دا ده چې جَنَّت د **اللّٰه** پاک دے، بندګان هم د هغۀ دي، عبادت هم د هغۀ کوي، کلام هم د هغۀ دے خو رَبِّ قدیر خپلو بندګانو ته، د خپل

جَنَّت زيرے پخپله ورنکړو بلکې خپل خوږ محبوب صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته يې وفرمائيل: اے خوږه محبوبه!

وَبَشِّرِ

لکه چې فرمائيلے کيږي: اے خوږه محبوبه صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! دا بندګان زما دي، کلمه زما لولي، عبادت زما کوي، جَنَّت هُم ما جوړ کړے دے خو زيرے دوئي له تهٔ ورکړه! ځکه خو مونږ وايو:

جو خُدا دیتا ہے ملتا ہے اِسی سرکار سے
کچھ کسی کو حق سے اس دَر کے سوا ملتا نہیں
کوئی مانگے یا نہ مانگے ملنے کا در ہے یہی
بے عطائے مصطفائی مُدّعا ملتا نہیں
خُود خُدا بے واسطہ دے یہ ہمارا منہ کہاں؟
واسطہ سرکار ہیں بے واسطہ ملتا نہیں( 1 )

خير! دا زمونږ د خوږ محبوب صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم شان دے، کوم چې د قرآنِ کريم د هر يو آيت نه ظاهريږي- الله پاک فرمائي: اے خوږه محبوبه صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! زيرے ورکړه! دا زيرے چا له ورکول دي؟ فرمائي:

| | |
|---|---|
| اَلَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ | ترجمهٔ کنزُ العِرفان: هٔغه خلقو ته چې ايمان يې راوړے دے او نيک کارونه يې کړي دي- |

چا له چې زيرے ورکول دي، د هغوئي دوه صفتونه دلته بيان شوي دي او دا پهٔ دې

1…سامانِ بخشش، صفحه:133130 ملتقطًا۔

ځائے کښې نۀ بلکې پۀ قرآنِ کريم کښې چې عام طور چرته هم زيرے ورکولے شي، نو هم دا دوه صفتونه ذِکر کيږي: (1): بنده مؤمن وي (2): نيک عمل کوونکے وي- د دې نه معلومه شوه چې د ايمان قبلولو سره سره نيک اعمال کول، نـمونځونه کول، روژې نيول، زکوٰة ورکول، حج ادا کول، د مور او پلار ادب او احترام کول، پۀ تجارت کښې، کاروبار کښې، غرض چې د ژوند پۀ هره يوه معامله کښې پۀ شريعت پسې تلل ضروري دي-

## د جَنَّت د کُنجی غاښونه

يو ځل د حضرت وَهب بن مُنَبِّه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پۀ خِدمت کښې عرض وکړے شو: آيا کلمۀ طيبه د جَنَّت کُنجي نۀ ده؟ اوئې فرمائيل: ولې نه (بالکل ده) خو د هرې کُنجی غاښونه وي، که تۀ د هغه غاښونو نه بغير تالا کولاوهل کول غواړې نو تالا نۀ کولاويږي - [1]

سُبْحٰنَ الله! څومره ښکلے مثال دے يعنې کلمۀ طيبه کُنجي ده او نـمونځ، روژه، حج، زکوٰة وغيره عبادتونه د دې کُنجی غاښونه دي، لهذا که د دې کُنجی پۀ ذريعه د جَنَّت دروازه کولوهل غواړې ✿ نو نـمونځونه به هم کوې ✿ روژې به هم نيسې ✿ که حج فرض وي نو هغه به هم ادا کوې ✿ چې د زکوٰة شرطونه پوره شي نو زکوٰة به هم ورکوې ✿ باقي فرائض او واجبات به هم پوره کوې ✿ د ګناهونو نه به هم بچ کيږې - بيا به چرته جَنَّت نصيب کيږي-

الله پاک دې مونږ ته د اِخلاص سره د کلمۀ طيبه د لوستلو، د دې پۀ زړۀ کښې د ځائے کولو، د دې د تقاضو د پوره کولو او د دې مبارکې کلمې سره قبر ته د کوزيدو توفيق راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

خدایا بُرے خاتمے سے بچانا | پڑھوں کلمہ جب نکلے دم یاالٰہی!

---

1...بخاری، کتاب الجنائز، باب فی الجنائز و من کان...الخ، صفحه:354۔

| | |
|---|---|
| گناہوں سے بھر پور نامہ ہے میرا | مجھے بخش دے کر کرم یاالٰہی! |
| تُلیں میرے اعمال میزاں پہ جس دم | پڑے اِک بھی نیکی نہ کم یاالٰہی! (1) |

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د جَنَّتي نعمتونو مختصر بيان

خير! زيرے ورکړے شوے دے، چا ته؟ ايمان والؤ ته، نيکانو خلقو ته- اوس هُغه زيرے څۀ دے؟ د کوم څيز زيرے دے؟ **اللّٰه** پاک فرمائي:

اَنَّ لَهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِیْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُؕ كُلَّمَا رُزِقُوْا مِنْهَا مِنْ ثَمَرَةٍ رِّزْقًاۙ قَالُوْا هٰذَا الَّذِیْ رُزِقْنَا مِنْ قَبْلُۙ وَ اُتُوْا بِهٖ مُتَشَابِهًاؕ وَ لَهُمْ فِیْهَاۤ اَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌۗۙ وَّ هُمْ فِیْهَا خٰلِدُوْنَ(۲۵)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: چې د هغوئي د پاره داسې باغونه دي چې د هغې نه لاندې نهرونه بهيږي، کله چې هغوئي ته د هُغه باغونو نه د خوړلو د پاره څۀ ميوه ورکړے شي نو وائي به، دا خو هُم هغه روزي ده کومه چې مونږ ته مخکښې راکړے شوې وه حالانکې هغوئي ته (مخکښې صرف پۀ شکل کښې) د دې پۀ شان ميوه ورکړے شوې وه او د هغوئي د پاره به پۀ هُغه باغونو کښې پاکې بيبيانې وي او هغوئي به پۀ هُغه باغونو کښې هميشه اوسيږي-

سُبْحٰنَ اللّٰه! دا دي هُغه عظيم نعمتونه د کومو چې ايمان والؤ او نيکانو خلقو له زيرے ورکړے شوے دے- حکيم الاُمَّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د دې آيت مبارک لاندې فرمائي: د جَنَّت 8 طبقې دي: (1): جَنَّتُ الفِردوس (2): جَنَّت عدن (3): جَنَّت ماوٰی (4): دارُ الْخُلْد (5): دارُ السَّلَام (6): دَارُ الْمُقَامَه (7): عِلِّيِّين او (8): جَنَّت نعيم- د دې درجو د دې نه علاوه نور نومونه هم دي- مسلمانان به د هغوئي د اعمالو مطابق پۀ دې طبقو کښې

1...وسائلِ بخشش، صفحه:110-

ساتلے شي، د ټولو مسلمانانو د پاره دا ټول جَنَّتونه دي، لهذا د آيت مبارک مطلب دا شو چې جَنَّتونه به په مسلمانانو باندې تقسيم شي (د چا اعمال چې څومره زيات وي، هغه به هُغه همره په اعلیٰ درجه کښې ساتلے شي)- [1]

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** جَنَّت ډير اعلیٰ مقام دے، په دې کښې **الله** پاک د خپلو بندګانو د پاره داسې نعمتونه جوړ کړي دي کوم چې نۀ د چا سترګو ليدلي دي، نۀ د چا غوږونو اوريدلي دي، نۀ د چا په زړۀ کښې د هغې خيال تير شوے دے-

## جَنَّت د کوم څيز نه جوړ کړے شو؟

صحابئ رسول حضرت ابو هريره رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: مونږ په بارګاهِ رسالت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کښې عرض وکړو: يَارَسُوْلَ الله! يَا رَسُوْلَ اللهِ! مِمَّ خُلِقَ الْخَلْقُ؟ يا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! جَنَّت د کوم څيز نه جوړ کړے شوے دے؟ اوئې فرمائيل: د اوبو نه- مونږ عرض وکړو: مونږ ته د جَنَّت د ودانۍ په باره کښې خبر راکړئ! اوئې فرمائيل: د جَنَّت يوه خښته د سرو زرو، يوه د سپينو زرو ده، د دې مِلَاط يعني خَټه (د خښتو انښلولو د پار په مينځ کښې استعماليدونکے څيز) خوشبو دار مشک دي- د دې خاوره د زعفرانو ده، د هغه کاڼي د ملغلرو او ياقوتو دي، څوک چې جَنَّت ته داخل شي هغه به خوشحاله وي، چرې به هم نۀ مايوسه کيږي، په جَنَّت کښې به هميشه اوسيږي، هغه له به چرې هم مرګ نۀ راځي- د هغۀ جامې به نۀ زړيږي او د هغه ځواني به چرې هم نۀ ختميږي- [2]

## د جَنَّتي وَنې شان

په يو **حديثِ پاک** کښې دي، رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي:

---

1...تفسیر نعیمی، پارہ:1، البقرۃ، زیر آیت:25، جلد:1، صفحہ:230 بتغیر قلیل۔

2...الزھد والرقائق، کتاب الزھد بروایۃ المروزی، باب ذکر اللہ عزوجل، صفحہ:380، حدیث:1075۔

بے شکه پۀ جَنَّت کښې يوه وَنه ده چې سورلۍ کوونکے (مثلاً پۀ اَس باندې سورلی کوونکے) د هغې پۀ سورې کښې 100 کاله هم روان وي نو ختم به نۀ شي [1] او پۀ جَنَّت کښې داسې نعمتونه دي کوم چې نۀ يوې سترګې ليدلي دي، نۀ يو غوږ اوريدلي دي، نۀ پۀ يو زړۀ کښې د هغې خيال تير شوے [2] او پۀ جَنَّت کښې د يو چابک برابر ځائے د دُنيا او څۀ چې پۀ دُنيا کښې دي، د ټولو نه بهتر دے۔ [3]

## جَنَّتيانو ته به تکليف نۀ وي

حضرت مجاهد رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: د جَنَّتي وَنو تَنې د سرور زرو دي، د هغې ښاخونه د زمرودو او د ياقوتو دي، د هغې پاڼې او ميوې ښکته رازوړندې دي، که خوړونکے پۀ ولاړه ميوه راشوکول غواړي نو هغۀ ته به مشقت نۀ وي، که پۀ ناسته يې راشوکول غواړي نو هم به ورته تکليف نۀ وي او که پۀ ملاسته يې راشوکول غواړي نو هم به هغۀ ته څۀ تکليف نۀ وي۔ [4]

سُبۡحٰنَ الله! خومره ښکلے شان دے د جَنَّت--!! رَبِّ کريم پۀ جَنَّت کښې صرف خوشحالي او ارام کيښودے دے تر دې پورې چې د جَنَّتي به د ونو نه د ميوو راشوکولو او د خوړلو اِراده وي نو پۀ ميوه راشوکولو کښې به ورته هم څۀ تکليف نۀ وي، انسان به ناست وي، پاځيدو ته به يې زړۀ نۀ کيږي او ميوه به هم خوړل غواړي نو داسې پۀ ناسته ناسته به هُم ميوې ميلاؤيږي، که هغه پۀ ملاسته ملاسته ميوه راشوکول غواړي نو هُم پۀ ملاسته ملاسته به ميوې ميلاؤيږي۔ يعنې چې جَنَّتي ته د يوې ذرې برابر هم تکليف وي، پۀ جَنَّت کښې د دې هډو تصور هم نشته۔

---

1... بخاری، کتاب بدء الخلق، باب ما جاء فی صفة الجنة وانها مخلوقة، صفحه: 832، حديث: 3251۔

2... مسلم، کتاب الجنة وصفة نعيمها واهلها، صفحه: 1087، حديث: 2824۔

3... بخاری، کتاب بدء الخلق، باب ما جاء فی صفة الجنة وانها مخلوقة، صفحه: 832، حديث: 3250۔

4... موسوعه ابن ابی الدنيا، صفة الجنة وما اعد الله لاہلها من النعيم، جلد: 6 صفحه: 329، رقم: 51۔

## آيا جَنَّتيان به هم خوراک ښناک کوي---؟

حضرت زيد بن اَرقم رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ فرمائي: يو ځل يو غير مسلمه ګس د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ خدمت کښې حاضر شو او عرض يـې وکړو: اے ابو القاسِم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! تاسو څهٔ فرمايئ چې جَنَّتيان به خوراک ښناک کوي؟ اوئې فرمائيل: آؤ! پهٔ هغه ذات باندې مې دې قَسم وي د کوم پهٔ قبضه کښې چې زما ځان دے! بے شکه جَنَّتيانو ته به پهٔ خوراک ښناک کښې د 100 نارينؤ همره طاقت ورکولے شي- دا يـې چې واوريدل نو هغه غير مسلمه پوښتنه وکړه: څوک چې خوراک ، ښناک کوي، هغه ته خو حاجت راپيښيږي او پهٔ جَنَّت کښې هيڅ تکليف نشته- رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائيل: پهٔ جَنَّت کښې به قضائے حاجت بس هم دومره وي چې پهٔ هغه به د مشکو پهٔ شان خوشبو داره خوله راځي (او ټول خوراک به هضم شي)- (1)

## د جَنَّتي خوراک پهٔ هره نمړۍ کښې به بيل خوند وي

پهٔ روايتونو کښې دي: اللّٰه پاک به فرښتو ته فرمائي: زما پهٔ دوستانو (يعني پهٔ جَنَّتيانو) خوراک وکړئ! بس هغوئي ته به د مختلفو رنګونو خوراکونه وړاندې کړے شي- جَنَّتيانو ته به د دې خوراک هره نمړۍ بيله بيله مزه ورکوي- کله چې دوئي ډوډۍ وخوري نو حکم به وشي: زما پهٔ بندګانو باندې اوبه وڅښئ! بيا به مختلف قِسمه شربتونه وړاندې کړے شي، د کومو د هر ګوټ چې به بيل بيل خوند وي- (2)

## د کُن وئيلو طاقت به ورعطا کړے شي

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! پهٔ دې دُنيا کښې زمونږ د پاره د ټولو چې کومه لويه

---

1...مسند امام احمد، مسند الکوفين، حديث زيد بن اَرْقَم، جلد:7، صفحه:736، حديث:19790۔

2...تنبيه الغافلين، باب صفة الجنة واہلها، صفحه:38۔

پرېشاني ده، هغه دا ده چې زمونږ د خواهشاتو حدونه مقرر کړے شوي دي، دلته مونږ خپله خوښه نشو کولے، بعضې وخت يو وړوکے شان خواهش وي، انسان د هغې د پاره ټول ژوند محنت کوي خو بيا يـې هم خواهش نۀ پوره کيږي، دا څۀ دي؟ زمونږ د خواهشاتو حدونه مقرر کړے شوي دي، دلته زمونږ هر خواهش، هر ارمان، هره خوښه نۀ پوره کيږي خو پۀ جَنَّت کښې به پۀ جَنّتيانو باندې کرم وي، پۀ روايتونو کښې دي: جَنَّتيان چې کله جَنَّت ته لاړ شي نو يوه فرښته به د دوئي خوا له راشي او دوئي ته به سلام وکړي او دوئي له به د رَبِّ کريم يو خط ورکړي- پۀ دې خط کښې به ليکلے شوي وي: هُغه خُدائے کوم چې حيّ و قيُّوم دے، کوم له چې به چرې هم مرګ نۀ راځي، د هغه د طرف نه د هُغه جَنَّتيانو پۀ نوم باندې پيغام پۀ کومو به چې چرې هم مرګ نۀ راځي- اَمَّابعد..!! بے شکه زۀ چې څۀ څيز ته کُن ووايم نو هغه کيږي- د اوس نه تاسو له هم دا طاقت درکړے کيږي چې تاسو کوم څيز ته کُن (يعنې وَشه) وايئ، هغه به کيږي- (1)

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دا څومره عظيم نعمت دے کوم چې به جَنَّتيانو ته عطا کولے شي--!! جَنَّتيان چې به څۀ غواړي، بس کُن به وائي نو خواهش به يـې پوره کيږي- د روايتونو مطابق جَنَّتي چې به کله خوراک کول غواړي، هغۀ ته به خوراک ميلاؤيږي، کله چې څۀ څښل غواړي، هغۀ ته به اوبۀ، پيۓ، شات، شربت ميلاؤيږي، تر دې پورې چې جَنَّتي الوتونکې مرغۍ ويني او که هغه خوړل غواړي نو هُغه مرغۍ به فوراً پخه شي او د هغۀ مخې ته به راشي- (2) غرض دا چې جَنَّتي پۀ جَنَّت کښې څۀ هم غواړي، هغه به بياموي، د هغۀ د وړوکي نه وړوکے او د لوئي نه لوئي خواهش به نيمګړے نۀ پرېښودے کيږي-

---

1...الانسان الکامل، الانسان الکامل حامل السر...الخ، صفحه:15۔

2...بهارِ شريعت، جلد:1، صفحه:156155، حصه:1 خلاصةً۔

# پۀ جَنَّت کښې زميداره

پۀ روايتونو کښې دي چې پۀ جَنَّت کښې به يو ګَس پۀ ارام باندې ملاست وي، د خپلو شونډو خوزولو نه بغير به پۀ زړۀ زړۀ کښې سوچ کوي چې که اجازت ميلاؤ شي نو زۀ پۀ جَنَّت کښې زميداره وکړم- لا دا به پۀ زړۀ کښې سوچ کوي چې فرښتو به خپل موتې بند کړې وي او د دۀ خوا له به راورسي، سلام به وکړي، دا چې به فرښتے ووينې نو وه به دريږي، فرښتے به وائي: تا پۀ زړۀ کښې ارمان وکړو، لهٰذا مونږ تخمونه راوړي دي- هٰغه بنده به تخم واخلي او پۀ زمکه کښې به يــې وَکري، (پۀ جَنَّت کښې خو خواري نشته،لهٰذا چې داځنګه تخم وغورځوي نو) هٰغه وخت به د غرونو همره اوچت فصل راوټوکيږي- (1)

سُبْحٰنَ الله! دا جَنَّت دے--!! پۀ جَنَّت کښې هر خواهش پوره کيږي، هر ارمان پوره کيږي، لکه څنګه چې مونږ پۀ دُنيا کښې پۀ اُميدونو ماتيدو، خواهشاتو، ارمانونو نۀ پوره کيدو خفه کيږو، پۀ جَنَّت کښې به داسې هيڅ نۀ وي بلکې ارام به وي، سکون به وي-

## يو اِيمان تازه کوونکے مَدَني ګل

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! مونږ روايت واوريدو چې پۀ جَنَّت کښې به انسان د زميدارۍ خواهش وکړي، پۀ دې ځائے کښې د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه يوه ايمان تازه کوونکې نکته بيان کړې ده، هغوئي ليکلي دي چې خلق پۀ کوم حالت کښې ژوند کوي، پۀ هٰغه حالت کښې به مړه کيږي او پۀ کوم حالت کښې چې مړه کيږي، پۀ هٰغه حالت کښې به د قيامت پۀ ورځ راپاځي- دا کوم ګَس چې پۀ جَنَّت کښې د زميدارۍ خواهش کوي، دا به پۀ اصل کښې هٰغه ګَس وي کوم چې پۀ ژوند کښې زميداره کوله، د دۀ پۀ دُنيا کښې د زميدارۍ سره شوق وو، پۀ

---

1... حلية الاولياء، رقم:245، عکرمه مولیٰ ابن عباس، جلد:3، صفحه:383 خلاصةً-

دې حالت کښې دا مړ شو، ځکه به په جَنَّت کښې هم هغه د زميدارۍ سوچ کوي۔

د دې نه معلومه شوه چې څوک په دې دُنيا کښې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ذِکر په ذوق او شوق سره کوي، د چا په زړۀ کښې چې هر وخت د مدينے منورې يادونه وي، د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ديدار د پاره بے قراره وي، د قيامت په ورځ به په جَنَّت کښې هم د هغوئي دغه سوچ وي، اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْكَرِيم! عاشقانِ رسول به په عشقِ رسول کښې خوشحاله راپاڅي۔ (1)

اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه څۀ ښکلي فرمائي:

روتے گر پڑیں گے ان کے قدموں میں وہاں
روزِ محشر شافعِ محشر نظر جب آئیں گے
خُلد میں ہو گا ہمارا داخلہ اس شان سے
یارسولَ اللہ کا نعرہ لگاتے جائیں گے (2)

## د جَنَّتيانو حُسن او ښائست

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** په جَنَّت کښې به هر يو ډير ښائسته او ښکلے وي، حضرت عکرمه رَضِیَ اللهُ عَـنْهُ فرمائي: په جَنَّت کښې به هر يو ګَس د 33 کالو ځوان وي، د هغوئي قد به د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام د قدر همره 60 ګزه يعنې 90 فټه وي، ټول به ښکلي ځوانان وي، هغوئي ته به 70 حُلّے (يعنې جَنَّتي جوړې) اغوستے کيږي، هره حُلّه به 70 رنګونه بدلوي او د هغې حُسن او ښائست به داسې وي چې جَنَّتي به د خپلې ښځې په مخ کښې او د هغۀ ښځۀ به د هغۀ په مخ کښې خپل مخ ويني (لکه د هغوئي مخونه به د آئينې په

1...مرآۃالمناجیح، جلد:7، صفحه:515ماخوذاً۔
2...وسائل بخشش، صفحه:421۔

شان صفا سوتره وي)- [1]

## د جَنَّتیانو حُسن به زیاتیږي

د جَنَّت یوه بله هم خاص خبره ده، دې دُنیا ته چې مونږ د کله نه راغلي یو، زمونږ عمر پرله پسې زیاتیږي، مونږ په هر یو منټ بلکې په هر یو سیکنډ کښې زړیږو، د بوډا والي طرف ته روان یو، څنګه چې عمر زیاتیږي، حُسن، ځواني، په طاقت او قوت کښې کمے راځي، یعنې په دې دُنیا کښې مونږ هر ساعت د فنا طرف ته روان یو- میاں محمد بخش صاحب رَحمَۃُ اللہِ عَلَیۃ څۀ ښکلي وئیلي وو:

سدا نہ باغیں بلبل بولے، سدا نہ باغ بہاراں
سدا نہ ماپے، حُسن جوانی، سدا نہ صحبت یاراں

**مفهوم:** په باغ کښې بلبله همیشه نۀ چغیږي، نۀ په باغ باندې همیشه سپرلے وي- دغه شان مور پلار، حُسن، ځواني، طاقت او قوت او د دوستانو محفلونه هم همیشه نۀ وي-

دا د دُنیا دستور دے، دلته هر ساعت د فنا طرف ته بوتلل کوي خو د جَنَّت دستور به ځانګړے وي- صحابئ رسول حضرت ابو هریره رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ فرمائي: زما دې په هُغه ذات باندې قَسم وي چاچې په مُحَمَّد صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې قرآن نازل کړے! په دُنیا کښې چې څنګه ساعت په ساعت بوډا والے راځي، هم داسې به په جَنَّت کښې ساعت په ساعت حُسن زیاتیږي- [2]

څومره ښکلے شان دے--!! په جَنَّت کښې خو فنا کیدل هډو شته نۀ، هلته خو هډو مرګ نشته، ځکه به هلته خلق د مرګ طرف ته نۀ ځي، د بوډا والي او کمزورۍ طرف ته به نۀ ځي بلکې په هر راتلونکي ساعت کښې به د جَنَّتیانو حُسن او ښائست نور هم زیاتیږي-

---

1...تنبیه الغافلین، باب صفة الجنة واہلہا، صفحه:38 خلاصةً-

2...موسوعه ابن ابی الدنیا، صفة الجنة وما اعد الله لاہلہا من النعیم، جلد:6 صفحه:329، رقم:13-

# د جَنَّت جُمعه بازار

د صحابئ رسول حضرت اَنَس بن مالِک رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ نه روايت دے، رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: بے شکه په جَنَّت کښې يو بازار دے، چرته چې به جَنَّتيان د هرې جُمعې په ورځ باندې ځي- هلته به شمالي هوا لګي، کومه چې به د هغوئي په مخونو او جامو کښې خائے کيږي- د هغې په ذريعه به د جَنَّتيانو حُسن او ښائست زياتيږي، کله چې به هغوئي خپلو کورونو ته واپس ځي نو د هغوئي کور والا به ورته وائي: وَاللّٰهِ لَقَدِ ازْدَدْتُمْ بَعْدَنَا حُسْنًا وَجَمَالًا په خُدائے مې دې قَسم وي! ستا حُسن او ښائست د مخکښې نه هم زيات شوے دے- [1]

## جَنَّتي نعمتونه د هميشه د پاره دي

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د بنده چې کله يو نعمت نصيب شي، د هغهٔ څه خواهش، څهٔ ارمان پوره شي نو هغه ضرور خوشحاليږي خو که هغه نعمت، هغه خواهش د خاص مودې د پاره وي نو خوشحالي يــې نيمګړې پاتې شي- چا شاعر وئيلي وو:

وَصل کی شیرِینی میں پنہاں فَصل کی تلخی بھی ہے کم کم
تم سے ملنے کی بھی خوشی ہے، تم سے جُدا ہونے کا بھی غم

خواهش خو پوره شو، نعمت خو ميلاؤ شو، د دې خوشحالي په خپل ځائے خو په دې خوشحالئ کښې د جُدايئ غم هم شامل دے- يو ځل حضرت رابعه بصريه رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡها وفرمائيل: که يو کَس له ټوله دُنيا او څهٔ چې په دې کښې دي، هر څهٔ ورکړې، بيا به هم هغه غريب وي- عرض وکړے شو: هغه څنګه؟ اوئې فرمائيل: ځکه چې دُنيا فاني ده (انسان که د ټولې دُنيا مالِک شي نو بيا به هم خالي لاسونه د دې ځائے نه ځي)- [2]

---

1...مسلم، کتاب الجنة و صفة نعیمها و اہلها، باب فی سوق الجنة...الخ، صفحه:1089، حدیث:2833۔

2...الکواکب الدریه، رقم:95، رابعه عدویه، جز:1، جلد:1، صفحه:287۔

جیتنے دُنیا سکندر تھا چلا
جب گیا دُنیا سے خالی ہاتھ تھا[1]

خو قربان شم! د جَنَّت د ټولو نه خاص خبره دا ده چې د هُغه ځائے نعمتونه عارضي نۀ دي، د خاص مودې د پاره نۀ بلکې د همیشه همیشه د پاره دي، نۀ به هلته مرګ راځي، نۀ به یو جَنَّتي چرته د جَنَّت نه ویستلے کیږي، نۀ به د یو ورکړے شوي نعمت نه محرومه کولے کیږي-

## د جَنَّت د ټولو نه اعلیٰ نعمت

رسولِ ذِیشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: جَنَّتیان چې کله جَنَّت ته لاړ شي نو یو اعلان کوونکے به اعلان کوي: اے جَنَّتیانو! ستاسو د پاره د **الله** پاک یوه وعده ده، کومه چې به نن پوره کولے شي- جَنَّتیان به عرض وکړي: آیا **الله** پاک زمونږه تلې درنې نۀ کړې؟ آیا زمونږ مخونه یې روښانه نۀ کړل، آیا مونږ یې د دوزخ نه پۀ بچ کولو جَنَّت ته داخِل نۀ کړو، بیا اوس کومه وعده ده؟ بس رَبِّ کریم به د خپل وجهِ کریم نه پرده لرې کړي او جَنَّتیان به د رَبّ دیدار کوي- پۀ هُغه ذات مې دې قَسم وي د کوم پۀ قبضه کښې چې زما ځان دے! جَنَّتیانو ته چې به څۀ عطا کولے شي، پۀ هغې کښې به د ټولو نه زیات محبوب نعمت هغوئي ته د رَبِّ کریم دیدار وي-[2]

## جَنَّت ته بوتلونکي اعمال

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دا عظیم الشان جَنَّت--!! داسې اعلیٰ نعمت--!! چرته چې به خواهش پوره کیږي، تش نعمتونه به وي، تش ارام به وي، تش سکون به وي او د

1...وسائل بخشش، صفحه:709۔

2...مسلم، کتاب الایمان، باب اثبات رویة المؤمنین في الآخرة...الخ، صفحه:87، حدیث:181۔

ټولو نه زيات دا چې هلته به د **اللّٰه** پاک ديدار نصيب کيږي- هُغه جَنَّت ته د تللو د پاره به مونږ ته څۀ کول پکار وي؟ راځئ چې يو څو حديثونه واورو:

## د اللّٰه پاک نه جَنَّت غواړئ!

پۀ **حديثِ پاک** کښې دي: کوم بنده چې د **اللّٰه** پاک نه درې کرته جَنَّت وغواړي، جَنَّت وائي: اَللّٰھُمَّ اَدْخِلْهُ الْجَنَّةَ اے **اللّٰه** پاکه! دا جَنَّت ته داخِل کړې- (1)

سُبْحٰنَ الله! **خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** جَنَّت څومره اعلیٰ نعمت دے---!! او جَنَّت ته د رسيدو طريقه څومره اسانه ده؟ روزانه درې کرته د **اللّٰه** پاک نه د جَنَّت غوښتو عادت جوړ کړئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! جَنَّت به مو نصيب شي-

وہ تو نہایت سستا سودا بیچ رہے ہیں جنّت کا
ہم مفلس کیا مول چکائیں اپنا ہاتھ ہی خالی ہے (2)

## د سوال نه ځان ساتئ!

پۀ يو **حديث شريف** کښې دي: مَنْ تَکَفَّلَ لِیْ اَنْ لَّا یَسْاَلَ النَّاسَ شَيْئًا، فَاَتَکَفَّلَ لَهُ بِالْجَنَّةِ څوک چې ما له د دې خبرې ضمانت راکړي چې د خلقو نه به څۀ نۀ غواړي، زۀ هغۀ له د جَنَّت ضمانت ورکووم- (3)

حضرت ثوبان رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ صحابئ رسول دے، هغوئي چې د مالکِ جَنَّت، قاسِمِ نعمت صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا فرمان واوريدو نو د هغوئي عادت مبارک داسې شو چې که پۀ سورلۍ باندې به ناست وو او چابک به ترينه پريوتو نو هغوئي به چا ته د راوچتولو د پاره هُم نۀ

---

1...ترمذی، کتاب صفة الجنة، باب ما جاء فی صفة انهار الجنة، صفحه:605، حديث:2572۔

2...حدائق بخشش، صفحه:186۔

3...ابوداؤد، کتاب الزکاة، باب کراهية المسئلة، صفحه:269، حديث:1643۔

فرمائيل بلکې ېخپله به د سورلۍ نه کوزيدو او چابک به يـې راخستو- (1)

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دا هم څومره اسان کار دے--!! بس کول دا دي چې د خپل مدد ېخپله والا قانون باندې عمل کول دي، کوم چې د ضرورت څيزونه دي، کوشش کوئ چې ځانله يـې ېخپله اخلئ، د ځان سره يـې سمبال ساتئ، که پۀ سفر تلل وي نو د سفر د ضرورت سامان د ځان سره د مخکښې نه ږدئ، بس کوشش کوئ چې د چا نه څۀ ونۀ غواړئ ، د بر ناحقه سوال نه هم ځان ساتئ، پۀ کور کښې هم کوشش دا پکار دے چې مثلاً اوبۀ څښل دي، ګلاس پکار دے، يو وړوکے شان څيز راخستل دي نو که اساني وي نو بچو، د بچو مور له د تکليف ورکولو پۀ ځائے يـې هم ېخپله راخلئ! بهر حال چې څومره درنه کيدے شي نو د نورو نه د غوښتلو نه ځان ساتئ! اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! جَنَّت به مو نصيب شي-

## جومات خپل کور جوړ کړئ!

د حضرت ابو دَردا رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ نه روايت دے، رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: جومات د الله پاک نه د هر يو ويريدونکي کور دے او څوک چې جومات خپل کور جوړ کړي، الله پاک د هغۀ د پاره د خپل رحمت، د خپلې رضا، پۀ پل صراط باندې پۀ حفاظت سره د تيريدو او د جَنَّت ضمانت ورکوي- (2)

څومره ښکلې خبره ده، د جومات سره چې ښۀ تعلق جوړ کړي نو رحمت به هم ميلاؤيږي، د الله پاک رضا به هم ميلاؤيږي او جَنَّت ته تلل به هم نصيب کيږي- افسوس چې نن خلق د جومات سره داسې تعلق لري لکه چې جومات يوه مسافر خانه وي، اذان وشي، جومات ته راشي، نـمونځ وکړي او واپس لاړ شي، دا هم اَقَلِّ قَلِيل يعنې ډير کم خلق

---

1…مسند امام احمد، مسند الانصار، من حديث ثوبان رَضِیَ اللهُ عنه، جلد:9، صفحه:233، حديث:23025ـ

2…مجمع الزوائد، كتاب الصلاة، باب لزوم المساجد، جلد:2، صفحه:101، حديث:2026ـ

کوي، څومره خلق خو داسې دي کوم چې هډو د نـمونځونو پروا هم نهٔ کوي- **اللّٰه** پاک دې هغوئي له توفيق ورکړي او زمونږ په حال باندې دې رحم وکړي، خير! څوک چې نـمونځونه کوي، د هغوئي هم دا حال دے چې راشي، نـمونځ وکړي او لاړ شي خو زمونږ د دُکان، زمونږ د کور سره زمونږ تعلق څنګه وي؟ د دې بالکل اُلټا--!! لکه څنګه چې زمونږ په کور کښې زړهٔ لګي، داسې په جومات کښې نهٔ لګي- دا زمونږه حال دے خو خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي؟ جومات خپل کور جوړ کړئ--!!

لکه چې مونږ له دا تعليم راکړے کيږي چې مونږ کوم تعلق د خپل کور سره ساتو، لکه څنګه تړون چې مو د خپل کور سره دے، هم داسې تړون د جومات سره جوړ کړئ! د **اللّٰه** پاک نبي حضرت عيسىٰ عَلَيْهِ السَّلَام يو ځل خپلو حواريانو ته وفرمائيل: (اے حواريانو--!! خپل) کورونه منزل (يعني عارضي د اوسيدو ځائے) جوړ کړئ! او جوماتونه خپل مستقل اوسيدو ځائے جوړ کړئ--!! (1)

لهذا د زيات نه زيات وخت په جومات کښې د تيرولو عادت جوړ کړئ! ❀ تر څو پورې چې په جومات کښې د اعتکاف په نيت سره يئ نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! د نيکو ميتړ به روان وي ❀ د شيطان نه به هم په حفاظت کښې يئ ❀ تر څو پورې چې په جومات کښې يئ نو د فضول کارونو نه به هم بچ يئ ❀ مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: د جومات فضا د ايمان د پاره ډيره فائده منده ده (چې دې سره ايمان مضبوطيږي) (2) ❀ حضرت سعيد بن مُسَيَّب رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: بنده چې تر څو پورې په جومات کښې وي، فرښتے د هغهٔ د پاره د بخښنې دُعاګانې کوي- (3) سُبْحٰنَ اللّٰه!

---

1...تاريخ مدينه دمشق، عيسیٰ بن مريم، رقم:5519، جلد:47، صفحه:423۔

2...تفسير نعيمی، پاره:2، البقره، زيرِ آيت:153، جلد:2، صفحه:82 بتغير قليل۔

3...تَنْبِيْهُ الْمُغْتَرِّين، الباب الثالث من جملة اخری من الاخلاق، صفحه:137۔

د يوې خبرې وضاحت کووم، مونږ له د جومات نه د کور جوړولو ترغيب راکړے شو، د دې هيځکله هم دا مطلب نۀ دے چې مونږ د جومات سره داسې رويه اختيار کړو لکه څنګه چې د کور سره ساتو، نا--!! نا، د جومات د تقدس، د دې ادب او احترام هر وخت لازمي ساتل ضروري دي، ډير داسې کارونه دي کوم چې مونږ پۀ کورونو کښې کولے شو خو پۀ جومات کښې يې نشو کولے، لکه: د دُنيا خبرې، اخستل خرخول، پۀ تيز اواز خبرې کول او خاندل وغيره، دا کارونه پۀ کور کښې خو کولے شې خو پۀ جومات کښې منع دي- ځکه جومات خپل کور ضرور جوړ کړئ، يعني دې سره ډير ژور تړون ساتئ، زيات وخت پۀ جومات کښې تيروئ، پۀ جومات کښې زړۀ لګوئ او د دې سره سره د جومات د ادب او د احترام خيال هم هر وخت ساتئ-

**الله** پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د شَيخَين سره محبت ساتئ!

حضرت ابو هريره رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: يوه ورځ سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم او حضرت علي المُرتضیٰ رَضِیَ اللهُ عَنْهُ بهر تشريف راوړلو، چې اوئې کتل نو مخامخ حضرت ابو بکر او عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهما راروان دي- سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حضرت علي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ مخاطب کړو او اوئې فرمائيل: يَاعَلِيُّ اَتُحِبُّ هٰذَيْنِ الشَّيْخَيْنِ؟ اے علي! آيا تۀ د دې دواړو شيخين سره محبت کوې؟ عرض يـې وکړو: آؤ جي! يا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! اوئې فرمائيل: اَحِبَّهُمَا تَدْخُلِ الْجَنَّةَ يعني د دې دواړو سره محبت کوه! تۀ به جَنَّت ته اورسې- (1)

---

1...تاريخ بغداد، رقم:67، محمد بن اسحاق...الخ، جلد:1، صفحه:262۔

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د صحابهٔ کرامو عَلیھمُ الرِّضوَان خاص طور د حضرت ابو بکر او عمر رَضِیَ اللهُ عَنْھما سره محبت کول هم جَنَّت ته بوتلونکے عمل دے- اوس پخپله غور وکړئ چې د دوئي سره محبت کوونکے جَنَّتي دے نو دوئي به پخپله جَنَّتيان ولې نهٔ وي- آؤ! آؤ! د مسلمانانو دا دواړه خليفه قطعي جَنَّتيان بلکې د جَنَّتيانو سرداران دي- خوږ نبي مکي مَدَني، مُحَمَّد عربي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: ابو بکر او عمر د بوډاګانو جَنَّتيانو سرداران دي- [1]

يعنې هٔغه خلق کوم چې پهٔ بوډا والي کښې وفات کيږي او هغوئي جَنَّت ته ځي، د هٔغه خلقو سرداران به ابو بکر او عمر رَضِیَ اللهُ عَنْھما وي-

| | | | |
|---|---|---|---|
| هر صحابيِ نبي! | جَنَّتي جَنَّتي | تولې صحابياتي هُم! | جَنَّتي جَنَّتي |
| څلور ياران د نبي! | جَنَّتي جَنَّتي | حضرتِ صديق هُم | جَنَّتي جَنَّتي |
| او عُمرِ فاروق هُم | جَنَّتي جَنَّتي | عُثمانِ غني | جَنَّتي جَنَّتي |
| فاطِمه او علي | جَنَّتي جَنَّتي | دي حسن حُسين هُم | جَنَّتي جَنَّتي |
| والدين د نبي | جَنَّتي جَنَّتي | هره بي بي د نبي | جَنَّتي جَنَّتي |
| دے مُعاوِيه هُم | جَنَّتي جَنَّتي | او ابو سُفيان هُم | جَنَّتي جَنَّتي [2] |

## جَنَّت ته بوتلونکي نور اعمال

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! هره نيکي جَنَّت ته بوتلونکې ده، البته ډير نور هٔغه نيک اعمال پهٔ کومو چې د جَنَّت ضمانت ورکړے شوے دے، پهٔ هغې کښې يو څو نور نيک اعمال دا دي: (1): رښتيا وئيل (2): وعده پوره کول (3): امانت دار اوسيدل (4): د خپلې شرمګاه حفاظت کول (5): سترګې ښکته ساتل (6): خپل لاسونه د ګناهونو نه بچ ساتل-

---

1...مصنف ابن ابي شيبة، كتاب الفضائل، ما ذكر في ابي بكر...الخ، جلد:7، صفحه:473، حديث:19۔

2...وسائلِ فردوس، صفحه:53۔

رسولِ ذِيشان صَلَّى اللّٰہُ عَلَيْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوک چې ما له د دې کارونو ضمانت راکړي، زۀ هغه له د جَنَّت ضمانت ورکووم-[1]

پۀ يو **حديثِ پاک** کښې دي: تۀ ما له د دې شپږو کارونو ضمانت راکړه، زۀ تا له د جَنَّت ضمانت درکووم (هغه 6 کارونه دا دي:) (1): نـمونځ (2): زکوٰة (3): امانت (4): شرمګاه (5): خِيټه او (6): ژبه-[2]

پۀ يو **حديثِ پاک** کښې فرمائي: کوم کَس چې سحر ووائي: رَضِيتُ بِاللّٰهِ رَبًّا، وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا، وَبِمُحَمَّدٍ نَبِيًّا زۀ د هغۀ د لاس نيولو او جَنَّت ته د بوتللو ضمانت ورکووم-[3]

## "القرآن الکريم" ايپلي کيشن

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي د ***I.T*** ډيپارټمنټ له خوا يو موبائل ايپلي کيشن جاري کړے شوے دے، د کوم نوم چې: ***Quran Al kareem*** (القرآن الکريم ) دے- پۀ دې ايپلي کيشن کښې ❁ د پوره قرآنِ پاک لوستلو ❁ او د مختلفو قاريانو پۀ اوازونو کښې د قرآنِ پاک اوريدلو سهولت موجود دے ❁ دې سره سره يو خاص سورت يا آيت ***Bookmark*** کيدے هم شي يعني بيا بيا لوستونکے سورت يا آيت د ***Bookmark*** کيدو سره پۀ اسانۍ سره لوستلے کيدے شي- اوسه پورې تقريباً د لسو لاکو نه زياتو کَسانو دا ايپلي کيشن ډاؤن لوډ کړے دے- تاسو هم دا ايپلي کيشن پۀ خپل موبائل کښې انسټال کړئ، پخپله ترينه هم فائده واخلئ او نورو ته هم د دې ترغيب ورکړئ-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

د بيان پۀ اخره کښې راځئ چې يوه شرعي مسئله زده کړو:

---

1...ابن حبان، کتاب البر والاحسان، باب الصدق والامر...الخ، صفحه:190، حديث:271-

2...معجم اوسط، من اسمه الفضل، جلد:3، صفحه:396، حديث:4925-

3...معجم الکبير، من اسمه منيذر، جلد:9، صفحه:78، حديث:17225-

# صحيح څۀ دي؟

(د صحيح شرعي مسئلې يا پۀ خلقو کښې د پرتې غلط فهمۍ پۀ ګوته کول)

**مسئله:** د خطبې پۀ وخت نـمونځ کول مکروهِ تحريمي ناجائزه او ګناه ده-

**وضاحت:** بعضې خلق د جُمعې پۀ ورځ هٔغه وخت راورسي کله چې خطيب صاحب (د عربۍ والا) خطبه شروع کړې وي يا بعضې وخت دويم اذان کيږي نو هٔغه وخت سُنَّت کول شروع کړي- ياد ساتئ، کله چې خطيب صاحب پۀ منبر باندې کښيني يا يـې (د عربۍ والا) خطبه شروع کړې وي نو هٔغه وخت سُنَّت يا بل نـمونځ کول مکروهِ تحريمي ناجائزه او ګناه ده- پۀ روايت کښې دي: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، وَابْنِ عُمَرَ اَنَّهُمَا كَانَا يَكْرَهَانِ الصَّلَاةَ وَالْكَلَامَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ بَعْدَ خُرُوجِ الْاِمَامِ يعني حضرت عبد الله بن عبَّاس او حضرت عبد الله بن عمر رَضِیَ اللہُ عَنۡہُم (کوم چې د اوچتې مرتبې صحابه کرام دي، دې دواړو حضراتو به) د خطيب منبر ته د تشريف راوړو نه پس نـمونځ کول او خبرې کول مکرورهِ (تحريمي) ګرځول-

لهذا ✿ که يو کَس د جُمعې د دويم اذان يا د عربۍ د خطبې شروع کيدو نه پس جومات ته راورسيدو نو هغه له پکار دي چې خاموش کښيني او خطبه واوري ✿ که سُنَّت يـې شروع کړل نو د هغې ماتول واجِب دي، پۀ هغه باندې لازم دي چې وروستو د هٔغه سنتو قضا راوړي او ✿ که د خطبې پۀ وخت يـې سُنَّت شروع کړل او مکمل يـې کړل نو سُنَّت به ادا شي خو ګنهګاريږي به ✿ که د خطبې شروع کيدو نه يـې مخکښې سُنَّت شروع کړي وو او پۀ هٔغه وخت کښې خطبه شروع شوه نو بيا دې يـې نۀ ماتوي بلکې څلور رکعتونه دې پوره کړي-[1]

الله پاک دې مونږ ته د صحيح اِسلامي احکامو د زده کولو او پۀ هغې باندې د عمل

1...دار الافتا اہلسنت غیر مطبوعہ، فتوىٰ نمبر:wat:2020، ماہنامہ فیضان مدینہ رجب المرجب 1441ھ۔

کولو توفیق راعطا کړي۔ اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د اَسمَاءُ الـحُسنیٰ برکتونه (وظیفه)

## یَا رَقِیبُ

یَا رَقِیبُ درې کرته ولولئ او پهٔ دانه باندې یې دَم کړئ! اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیم! شِفا به مو نصیب شي۔ (1)

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1...مدنی پنج سوره، صفحه:252۔